# كامِل مؤمِن څوك؟

**27-June-2024**



هفته وار د سُنّتونکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتونك بيان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 27 جون، کال 2024ء (20 ذو الحج، 1445ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# کامِل مؤمِن څوک؟

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د ایمان والا کیدو برکتونه
- ---اُمَّتِ مصطفٰے خَیرُ الاُمَم دے
- ---د کامِل مؤمِن یو څو ښکلې ښکلي اخلاق
- ---د اِمامِ حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک نه ویره

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن

اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: چا چې په ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کَرَته دُرُود شريف ولوستو د هغۀ به د قيامت په ورځ زما شفاعت نصيب کيږي۔ [1]

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِىْ | مرے حضور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہوگا[2]

**وضاحت**: د قيامت په ورځ چې به کله خلق د مختلفو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام په خدمت کښې د شفاعت د سوال کولو د پاره حاضر شي نو ټول انبيائے کرام به فرمائي: اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِىْ يعني زما نه علاوه د بَل چا خوا له لاړ شئ! خو چې کله به خلق بارگاهِ رسالت ته حاضر شي نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: اَنَا لَهَا، اَنَا لَهَا د دې کار (يعني شفاعت) د پاره هُم زۀ يم۔

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1...مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، جلد:10، صفحہ:120، حدیث:17022۔

2...ذوق نعت، صفحہ:54۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## چې کله یو غیر مسلمه کلمه ووئیله

عبدُ الواحِد بنِ زید وائي: یو ځل زهٔ پهٔ سمندري سفر باندې ووم چې ناڅاپه تیزه سیلۍ راغله، هغه سیلۍ مونږ د یوې شاړې جزیرې پهٔ لور بوتللو، چې مونږ کله هغه جزیرې ته ورسیدو نو وه مو کتل چې هلته یو کَس دے کوم چې د غیرُ الله پهٔ عبادت کښې مصروف دے، مونږ ووئیل چې مونږ خو به داسې مشرک د ځان سره نهٔ کښینوو۔ هغه مشرک ووئیل چې تاسو د چا عبادت کوئ؟ مونږ ووئیل چې د الله پاک۔ اوئې وئیل: الله څوک دے؟ مونږ ووئیل: هغه د چا عرش چې د اسمانونو نه بره او حکومت پهٔ زمکه باندې (هم) دے۔ مُشرِک پوښتنه وکړه: تاسو ته دا څنګه معلومه شوه؟ مونږ ووئیل: الله پاک خپل یو رَسول راولیږلو، هغوئي معجزې وښودلې، هم هغه رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ د الله پاک نه خبر کړو۔ مُشرِک ووئیل: بیا ستاسو د هغه رسول سره څهٔ وشو؟ مونږه ووئیل: چې کله هغوئي د الله پاک پیغام پوره پوره مونږ ته راورسولو نو

---

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

رَبِّ کریم هغوئي د ځان خوا له اوبللو- مُشرِک ووئیل چې آیا د هغوئي څۀ نخښه ستاسو سره شته؟ مونږ جواب ورکړو: آؤ! د الله پاک کتاب دے- اوئې وئیل: راوړئ! ما ته یې وښایئ!

بیا مونږ هغۀ ته قرآنِ کریم وښودلو- هغۀ چې ورته وکتل نو اوئې وئیل: ما له خو د دې لوستل نه راځي- نو مونږ هغۀ ته ولوستو او واورولو-

الله! الله! د قرآنِ کریم څومره ځانګړے شان دے، مونږ چې څنګه تلاوت وکړو، د قرآنِ مجید مقدس الفاظ د اثر غشي جوړ شول او د هغۀ پۀ زړۀ ولګیدل، بیا هغۀ تلاوت اوریدو او ژړل یې، آخِر یې ووئیل: دا چې د کومې هستئ کلام دے، حق جوړیږي چې د هغۀ نافرماني ونکړے شي- دا یې چې ووئیل نو هٰغه ښځواني مُشرِک کلمه ووئیله او مسلمان شو-

بیا مونږ هغۀ د ځان سره پۀ سمندري جاز کښې کښینولو- پۀ لاره کښې مو هغۀ ته د قرآنِ کریم یو سُورت هم وښودلو- چې کله شپه شوه نو مونږ ټول د خپلو بسترو پۀ لور روان شو نو هٰغه نوي مسلمان ووئیل: اے قومه! هٰغه خدائے د کوم سره چې تاسو زۀ اشنا کړم، آیا هغۀ هم اوده کیږي؟ مونږ ووئیل: نۀ، هغۀ حَیّ و قَیُّوم دے، هغۀ له نۀ خوب ورځي او نۀ پرې پرکالي راځي- دا یې چې واوریدل نو هٰغه نوي مسلمان شوي ووئیل: دا بے ادبي ده چې بنده د خپل مالِک پۀ وړاندې اوده وي- دا یې چې واوریدل نو هغۀ ودریدو، ټوله شپه ولاړ وو او ژړل یې، ژړل یې، تر دې پورې چې سحر شو-

عبدُ الواحِد بن زید فرمائي: چې کله مونږ عِبَادان (نومې ښار) ته ورسیدو نو مونږه دوستانو پۀ شریکه څۀ رقم راجمع کړو او هٰغه نوي مسلمان شوي له مو ورکړو- رقم ته چې یې وکتل نو اوئې وئیل: دا څۀ دي؟ مونږه ووئیل: مونږ ستا مدد کوو- هغۀ پۀ بے نیازئ سره ووئیل: سُبْحٰنَ الله! تاسو ما ته هٰغه لاره وښودله کومه چې تاسو ته پخپله هم نه

ده معلومه- چې زۀ کله پۀ جزيره کښې ووم، د غيرُ الله عبادت مې کولو، الله پاک هٔغه وخت زۀ وږے اونه ساتلم نو اوس به مې څنګه ضائع کوي؟ دا يــې چې ووئيل نو هغۀ زمونږ نه جُدا شو-

ډيره موده پس زۀ خبر شوم چې د هٔغه نوي مسلمان څنګدن دے، زۀ زر د هغۀ خوا له لاړم- سلام مې وکړو او بيا مې ترينه پوښتنه وکړه: آيا څۀ حاجت شته؟ اوئې وئيل: **هٔغه رَبِّ کائنات کوم چې ما پيژندلو هم نۀ، هغۀ تاسو جزيرې ته د راوليږلو سره زما حاجت پوره کړے وو،** اوس **هيڅ حاجت نشته-** فرمائي: د دې نه لږ سعت پس هٔغه نوے مسلمان وفات شو او د رَبّ پۀ حضور کښې حاضر شو-

بيا ما د هغۀ تجهيز وتکفين [يعني د غُسل او کفن اغوستو ] وغيره فريضې ترسره کړې، جنازه مې وکړه او دفن مې کړو- د شپې ما خوب وليدو چې يو ښکلے ګنبد دے، د هغې نه لاندې يو ښکلے شان تخت دے، پۀ تخت باندې يوه ډيره ښکلې حُوره ناسته ده او هٔغه نوے مسلمان ډير پۀ ښه حالت کښې د حُورې پۀ خوا کښې ناست دے، حُوره هغۀ ته بيا بيا وائي: (4)

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾

(پاره:13، الرعد:24)

[مفهوم] ترجمه کنزُالعِرفان: پۀ تاسو دې سلامتيا وي ځکه چې تاسو صبر وکړو نو د آخرت ښه انجام څومره ښکلے دے-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! رَبِّ رحمان چې پۀ چا باندې رحم وکړي نو د هغۀ پۀ مزو سر شي- مونږه اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان يو، د ايمان والا يو، راځۀ چې د الله پاک

---

4...(مواعظِ ابن جوزی، ص:۴۰)۔

او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شکريه ادا کړو:

دولتِ ایماں عطا کی، اپنے دامَن میں لیا | کفر سے ہم بینواؤں کو بچایا شکریہ
گرچہ شیطاں ہر گھڑی ایمان کی ہے گھات میں | تم نے تھاما، جب کبھی میں ڈگمگایا شکریہ
مُنہ لگاتا تھا کہاں دُنیا میں کوئی بھی مجھے | ایسے ناکارہ نکمّے کو نبھایا شکریہ
خاتمہ بالخیر ہو میرا مدینے میں اگر | بال بال اُٹھے پُکار اپنا، خدایا...!! شکریہ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ایمان والا کیدو برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ مسلمانان يو، الله پاک صرف په خپل کرم باندې مونږ ته د ايمان دولت راعطا کړے دے، يقيناً چې دا ډير لوئي بلکې د ټولو نه لوئي کرم دے- د ټولو فضيلتونو، د ټولو عطاګانو، د ټولو نعمتونو اَصل هم ايمان دے، چې کله ايمان نصيب شي نو بيا بنده د الله پاک د خاص رحمتونو حقدار جوړ شي، چې کله ايمان نصيب شي نو بنده کامياب شي، چې کله ايمان نصيب شي نو بيا بنده د جنّت حقدار جوړ شي، الله پاک په ايمان والؤ باندې خاص کرم فرمائي ❁ ايمان والؤ ته پاک ژوند عطا کولے شي ❁ د ايمان والؤ نيکۍ قبلولے شي ❁ د ايمان والؤ ګناهونه معاف کولے شي ❁ د ايمان والؤ قبر د جنّت باغ جوړيږي ❁ د ايمان والؤ راحت او سکون نصيب کيږي ❁ او هم ايمان والا دي د چا د پاره چې د آخرت ټول نعمتونه تيار کړے شوي دي، بے ايمانه، غير مسلمه خلق خو د رَبّ نافرمانه دي، د هغهٔ د رحمت نه لرې، د هغهٔ د عذاب حقدار او هميشه هميشه په دوزخ کښې د پاتې کيدو لائق دي بلکې رښتيا خبره خو دا ده چې څوک بے ايمانه دي، غير مسلمه دي هغوئي په حقيقت کښې د انسان وئيلو حقدار هم نه دي، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ (پارہ:9،الاعراف:179) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُالعِرفان: دا خلق د څناورو پهٔ شان دي بلکې د هغوئي نه هُم زيات ګمراه شوي- |

اَلْحَمْدُلِلّٰه! الله پاک مونږ ته د ايمان دولت راعطا کړے دے، الله پاک دې مونږ ته پهٔ دې باندې اِستقامت راعطا کړي، تر مرګه پورې مسلمان پاتې کيدل، هم د ايمان پهٔ حالت کښې قبر ته کوزيدل او د قيامت پهٔ ورځ راپاڅيدل نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| محبّت میں اپنی گُما یاالٰہی | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی! |
| مسلماں ہے عطّارؔ تیری عطا سے | ہو ایمان پر خاتِمہ یاالٰہی! |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کامِل مؤمِن نخښې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ د ايمان دولت نصيب شو، دا ګرم خو وشو نو وشو، د ايمان د دې دولت نصيب کيدو نه پس هم زمونږه يوه ذِمَّه واري ده او دا ذِمَّه واري هم الله پاک لګولې ده، آؤ جي! پهٔ قرآنِ کريم کښې حکم کيږي:

| | |
|---|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا (پاره:5،النساء:136) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! ايمان ساتئ! |

دلته وګورئ! خِطاب ايمان والؤ ته دے او حُکم ورکړے کيږي چې اِيمان راوړئ چې هغوئي د مخکښې نه د ايمان والا دي نو بيا د ايمان راوړو څهٔ مطلب دے؟ د تفسير

علمائے کرام د دې وضاحت فرمائي: اِزۡدَادُوۡافِی الۡاِیۡمَانِ يعنې معنیٰ دا ده چې اے ایمان والؤ! خپل ایمان نور هم مضبوط کړئ![5] ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا په دې باندې پۀ اِستقامت سره قائِم هم اوسئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د دې پۀ تقاضو باندې هم عمل وکړئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د ایمان شعبې هم ډیرې زیاتې دي، دغه شعبې هم اختیار کړئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا پۀ ایمان کښې نوره هم ډیره ترقي وکړئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د خپل ایمان د کمال پۀ فِکر کښې هم اخته شئ!

| | |
|---|---|
| یہ شہادت گہِ اُلفت میں قدم رکھنا ہے | لوگ آسان سمجھتے ہیں مسلماں ہونا |

**وضاحت:** یعنې دائرۀ اِسلام د اللّٰه او د رسول پۀ محبت کښې د وجود، زړۀ او مال د بازۍ لګولو ځائے دے، دا هغه میدان دے چرته چې د رسیدو سره هر څۀ د رَبّ پۀ نوم قربانول وي، خلق دا اسانه ګڼي۔

## اوچتې درجې د ایمان پۀ کمال سره نصیب کیږي

مطلب دا دے چې چا کلمه ووئیله، پۀ رښتوني زړۀ سره یـې ووئیله، بیا که هغۀ تر مرګه پورې پۀ دې باندې قائم اوسي، هم د ایمان پۀ حالت کښې قبر ته کوز شي، هغۀ د جنّت حقدار خو دے، خو فضیلت پۀ دې کښې دے چې بنده د دې کلمې تقاضې هم پوره کړي، جنّت د ایمان پۀ ذریعه نصیب کیږي خو د درجو اوچتوالے د ایمان پۀ کمال او د دې پۀ تقاضو باندې د عمل کولو پۀ ذریعه نصیب کیږي۔

مونږ که چرې غور وکړو نو پۀ مونږ کښې زیاتره خلق صرف ځکه مسلمانان دي چې د مسلمانانو پۀ کورونو کښې پیدا شوي دي، دا هم د اللّٰه پاک ډیر لوئي کرم دے چې هغۀ د مسلمان پۀ کور کښې پیدا کړو، هم د ماشومتوب نه مو کلمه نصیب شوه۔ که

[5] ...روح المعانی،پارہ:5،النساء،زیرِ آیت:136،جز:5،جلد:3، صفحہ:221۔

د غیر مسلمه پهٔ کور کښې پیدا شوے وے نو پته نه لګي چې چرته به ذلیله کیدلے- دا د هغهٔ کَرم دے-

خو د سوچ خبره ده، د مثال پهٔ طور یو سړے دے، هغهٔ ته د خپل پلار پهٔ میراث کښې یو کروړ روپۍ میلاؤ شوې، څهٔ ګڼئ چې هغهٔ به دا یو کروړ روپۍ پهٔ خزانه کښې کیږدي او پهٔ ارام به کښیني؟ نهٔ--!! پهٔ هغې باندې به کاروبار کوي، د هُغه یو کروړ نه به د دوه، درې، څلور کروړه جوړولو کوشش کوي- بیا غور وکړئ چې ایمان مونږ ته پهٔ میراث کښې میلاؤ شوے دے، کلمه مونږ د مور پهٔ غیږه کښې وئیلے وه او دا ایمان یو کروړ نهٔ بلکې د دُنیا د ټول دولت نه لوئي دولت دے خو زمونږ حالت ته وګورئ چې دا دولت مونږ ته پهٔ میراث کښې میلاؤ شوے وو، بس مونږ هم پهٔ دې باندې مطمئین یو، د دې د زیاتولو راسره هډو فِکر نشته، د دې د نور مضبوطولو، د ایمان پهٔ درجو کښې د وړاندې تللو زمونږ سره هډو فِکر نه وي-

الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم وکړي، دا هم زمونږه ذِمّه واري ده، رَبِّ کریم فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! ایمان ساتئ! |

(پاره:5،النساء:136)

یعنې اے ایمان والؤ! د خپل ایمان فِکر وکړئ! دا نور هم مضبوط کړئ!

الله پاک دې مونږ ته د دې توفیق راعطا کړي- راځئ چې د کامِل مؤمِن د نخښو پهٔ باره کښې واورو او بیا د هغې د اختیارولو نیت هم وکړو:

## (1): کامِل مؤمِن د فضولياتو نه ځان بچ کوي

د کامِل مؤمِن يوه بنيادي نخښه دا وي چې هغهٔ د فضول کارونو نه ځان ساتي- الله پاک ارشاد فرمائي:

وَالَّذِيۡنَ هُمۡ عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُوۡنَ ۙ﴿۳﴾ (پاره:18،المؤمنون:3)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغوئي کوم چې د فضول خبرو نه مخ اړوونکي دي-

يعنې کامياب مؤمِن هغهٔ وي څوک چې د هر فضول او باطِل څيز نه لرې اوسي-

## مونږ او فضوليات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د کامِل مؤمِن نخښه ده چې کامِل مؤمِن د وخت قدر کوي، خپل قيمتي وخت پهٔ فضول کارونو کښې نه ضائع کوي- ځکه چې څوک ايمان والا وي نو هغهٔ ته معلومه وي چې ❀ ما له دا ژوند د فضول څيزونو د پاره نه دے راکړے شوے ❀ زهٔ به مړ کيږم ❀ د قيامت پهٔ ورځ به راپاڅم ❀ د رَبِّ کريم پهٔ حضور کښې به حاضريږم ❀ د خپل ژوند د يو يو سعت حساب به ورکووم، ❀ هغهٔ د رَبّ پهٔ حضور کښې د حاضرۍ نه ويريږي ❀ د هغهٔ سره د قيامت د حساب فِکر وي ❀ هغهٔ د خپل ژوند د يو يو سعت ذمه وار دے، ځکه خپل وخت پهٔ فضولياتو کښې نه تيروي، د خپل وخت قدر کوي-

خو افسوس چې نن سبا زمونږ د مسلمانانو حالت ډير نازک دے، د فضولياتو ډير کثرت دے، چا ته چې ګورې نو د خپل وخت پهٔ بربادولو کښې اخته دے ❀ کله د سالګرې پهٔ نوم باندې ❀ کله د نيو ائير نائټ پهٔ نوم باندې ❀ کله د کليزې پهٔ نوم باندې ❀ کله د پکنک پهٔ نوم باندې د ګناهونو نه ډکې دستورې [Functions]

کیښودے شي، ډیرې ډیرې ګینټې پۀ فضولیاتو کښې نۀ بلکې پۀ ګناهونو کښې ضائع کولے شي ❀ یقیناً سالګره کول څۀ ګناه نه ده خو دلته چې کوم انداز اختیار کړے شوے دے، دا د فضولیاتو بلکې د ګناهونو والا دے ❀ نن سبا د مسلمانانو د ژوند مقصد صرف خوراک څښاک کول او مزې کول پاتې شوے دے ❀ د دوستانو محفلونه دي ❀ د هوټلو کثرت دے ❀ ډیرې ګینټې بلکې ډیرې شپې پۀ ګپونو کښې ضائع کولے شي ❀ بیا یې باقي پاتې کسر موبائل او سوشل میډیا ویستے دے ❀ یو وخت وو چې نادانه ماشومانو به د مور پلار نه پۀ پټه ویډیو ګیمز کتل ❀ پۀ کور کښې خو د دې اسباب نه وو، ماشومان به بهر دکانونو ته تلل او پۀ دې کښې به هم ویریدل چې هسې نه بابا مې اونه ویني، څوک خپل مې اونه ویني او زما شکایت ونکړي ❀ اوس دا حالت دے چې مور پلار پخپله بچو له د ویډیو ګیمز سامان راوړي ❀ بلکې اوس خو یې پخپله هم کوي ❀ عجیبه قِسم د اخلاقو خرابوونکي ګیمز راغلي دي ❀ ماشومان، ځلمي، اولاد، مور پلار ټول پکښې اخته وي ❀ پۀ فیس بُک، یوټیوب باندې پوسټونه کوري، ریلز [Reels] ، شورټس ګوري ❀ فضول سکرولنګ کوي، ډیرې ډیرې ګینټې اوس پۀ فضولیاتو کښې ضائع کیږي ❀ شپې تیرې شي ❀ خوب یې نه پوره کیږي ❀ طبیعت یې خراب وي ❀ د کولو کارونه ترینه نیمګړي پاتې شي- آه! افسوس!

زمانے کے انداز بدلے گئے
نیا راگ ہے، ساز بدلے گئے

حقیقت خرافات میں کھو گئی
یہ اُمّت روایات میں کھو گئی

بجھی عشق کی آگ اندھیر ہے
مسلماں نہیں خاک کا ڈھیر ہے

وضاحت: د زمانے انداز بدل شو، اوس خو خبرې هم بدلې شوې، نوې نوې طور طریقې اختیارولے کیږي، آه! افسوس چې د حقیقت ځائے خراباتو نیولے دے، آه! دې اُمَّت خپل اصلي روایتونه هیر کړي دي، آؤ! آؤ! د عشق وور مړ شو، تیارۀ راخوره شوه،

مسلمانان څوک چې د عشق پهٔ طاقت باندې اوچت مقام ته رسيدلي وو، د خاورو ډيرې ترينه جوړ شوي دي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يقين وکړئ چې پهٔ فضولياتو کښې اخته کيدل، وخت بربادول د مسلمانانو د شان خلاف کار دے- د يو رښتوني مسلمان پهٔ ژوند کښې **فراغت** نومې څهٔ لفظ نشته، دلته دا وئيلے شي چې وزګار ناست ووم نو بس د ځان د مشغولتيا د پاره مې دا کار شروع کړو، هسې ټائم پاس کووم وغيره- دا د ايمان والؤ انداز نه دے، يو مسلمان چرې هم فارغيدے نشي، اللّٰه پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۙ(۷) (پاره:30،الم نشرح:7) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو چې کله تهٔ [د نـمانځه نه] وزګار شې نو [پهٔ دُعا کښې] ښه کوشش کوه- |

حضرت قاضي شُرَيح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوه کسان پهٔ فضول کار وليدل نو اوئې فرمائيل: اَلْفَارِغُ مَا اَمَرَبِهٰذَا يعنې فارغ کَس ته د دې کار حکم نه دے ورکړے شوے، اللّٰه پاک فرمائي: (6)

| | |
|---|---|
| فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۙ(۷) (پاره:30،الم نشرح:7) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو چې کله تهٔ [د نـمانځه نه] وزګار شې نو [پهٔ دُعا کښې] ښه کوشش کوه- |

يعنې خپل فارغ وخت پهٔ عبادت کښې تير کړه! مطلب دا دے چې کله د يو عبادت نه وزګار شې نو بَل عبادت شروع کړه او يو سعت هم د عبادت نه خالي مهٔ تيره وه چې د

---

6...انوارِجمال مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم، صفحه:323 بتصرف-

دنيا د پيدا کولو اصلي مقصد هم دا دے- (7)

زندگی آمد برائے بندگی | زندگی بے بندگی شرمندگی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوده کيدو د پاره وخت نه ميلاويږي

يو ځل د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ څادر اغوستے وو او ملاست وو، يو کس راغلو، پوښتنه يـې وکړه: اَمِيرُ الْمُوَمِنِين چرته دے؟ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هلته موجود وو، اوئې فرمائيل: اَمِيرُ الْمُوَمِنِين اوده دے- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې دا واوريدل نو فوراً راپاڅيدلو او اوئې فرمائيل: معاوِيه اوس تا څهٔ ووئيل؟ عرض يـې وکړو: ما ووئيل: اَمِيرُ الْمُوَمِنِين اوده دے- اوئې فرمائيل: **مُعَاوِيَه! که زهٔ د ورځې اوده شوم نو رِعايا به برباده کړم- که د شپې اوده شوم نو خپل ځان به برباد کړم (يعني د الله پاک د عبادت نه به محرومه پاتې شم)- چې دا حالت دے نو زهٔ څنګه اوده کيدے شم؟** (8)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ! دا د ايمان والا وو--!! دا د کامِل ايمان والا وو، هغوئي ته به د اوده کيدو د پاره وخت نه ميلاويدو، او مونږه--!! زمونږه حالت دا دے چې

دِن لَہو میں کھونا تجھے، شب صبح تک سونا تجھے
نہ شرمِ نبی، نہ خوفِ خُدا، یہ بھی نہیں، وہ بھی نہیں (9)

---

7...تفسیرِ کبیر، پارہ:30، الم نشرح، زیرِآیت:7، جلد:11، صفحہ:209۔

8... تفسیرِ کبیر، پارہ:30، الم نشرح، زیرِآیت:7، جلد:11، صفحہ:209۔

9...حدائقِ بخشش، صفحہ:111۔

وضاحت: يعني ورځ په فضولياتو کښې تيريږي، د شپې د غفلت په خوب اوده کيږو، نۀ د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه څۀ شرم او نۀ د الله پاک نه ويره، هيڅ هم نشته-

لگا تکیہ گناہوں کا پڑا دِن رات سوتا ہوں

مجھے اب خوابِ غفلت سے جگا دو یا رسولَ اللہ!

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم وکړي- د خپل وخت قدر زده کړئ ❁ خپل جدول جوړ کړئ ❁ د يو يو منټ حساب ساتئ ❁ چې څۀ وخت د حلالې گټې او خوراک د پاره وي ❁ څۀ وخت د کور والؤ د پاره وي ❁ څۀ وخت د عبادتونو د پاره وي، داسې يې تقسيم کړئ او خپل جدول جوړ کړئ، بيا په استقامت سره په دې باندې عمل هم کوئ- الله پاک دې مونږ ته په دې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ډيره ښکلې رساله ده: انمول ہیرے- دا ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! د وخت د قدر کولو ذهن به مو جوړ شي- په دې رساله کښې د جدول جوړولو طريقه هم ليکلے شوې ده-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (2): د نمونځونو حفاظت کوونکے

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! د کامِل مؤمِن دويمه نخښه دا ده چې هغۀ د نمونځونو حفاظت کوونکے وي- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۹﴾ (پاره:18،المؤمنون:9) | [مفهوم] ترجمه کنزُالعِرفان: او هغه خلق کوم چې د خپلو نمونځونو حفاظت کوي- |

**اَللّٰہُ اَکْبَر!** دا هم د كامِل مؤمِن يو اهم صفت دے، څوک چې كامِل ايمان والا دے ❀ هغۀ د خپلو نـمونځونو حفاظت كوي ❀ نـمونځونه نۀ قضا كوي ❀ د نـمونځونو د وختونو خيال ساتي ❀ نـمونځ پۀ ښه طريقه ادا كوي ❀ پۀ خشوع او خضوع سره يـې ادا كوي-

خو افسوس چې نن سبا پۀ دې معامله كښې هم حالات ډير نازک دي- د نـمونځ كوونكو شميره د نشت برابر ده- حالانكې نـمونځ ډير اهم عبادت دے- د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمان دے: **څوک چې د نـمونځ حفاظت نه كوي، د هغۀ پۀ دِين كښې هيڅ حصه نشته-** (10) كاش چې زمونږ د نـمونځونو فِكر نصيب شي-

تاسو د قرآنِ كريم تلاوت وكړئ! پۀ پينځمه سيپاره كښې **د ويرې د نـمونځ** بيان دے، **د ويرې نـمونځ** څۀ وي؟ د جنګ پۀ حالت كښې ادا كيدونكے نـمونځ--!! يو ځل غير مسلمو سازش كړے وو چې د مسلمانانو نـمونځ ډير خوښ دے، چې كله دوئي نـمونځ كوي نو مونږ به پۀ دوئي باندې حمله وكړو- اللّٰه پاک خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **د ويرې د نـمونځ** حكم وكړو چې عين د نـمونځ پۀ حالت كښې چې كله د نـمونځ وخت شي نو بيا داسې وكړئ چې نيم صحابۀ كرام پۀ نـمونځ كښې شركت وكړئ، نيم يـې حفاظت وكړئ، بيا باقي پاتې نيم دې د جَمعې سره پۀ نـمونځ كښې شامِل شي او مخكښيني دې يـې حفاظت وكړي- غرض دا چې د ويرې د نـمونځ يوه پوره طريقه ده، كومه چې پۀ كتابونو كښې ليكلے شوې ده-

د عرض كولو مقصد مې دا دے چې نن مونږ د معمولي كارونو پۀ وجه نـمونځ قضا كوؤ، جَمعه قضا كوو خو نـمونځ دومره اهم دے چې عين د جنګ پۀ حالت كښې چې

---

10 ...مصنف عبد الرزاق، كتاب الطهارت، باب الجرح لا يرقا، جلد:1، صفحه:116، حديث:579۔

کله غیر مسلمو د حملې منصوبه جوړه کړې وه، هُغه وخت هم د نـمونځ قضا کولو اجازت ورنکړے شو-

| | |
|---|---|
| آگیا عین لڑائی میں اگر وقتِ نماز | قبلہ رُو ہو کے زمیں بوس ہوئی قومِ حجاز |
| ایک ہی صف میں کھڑے ہوگئے محمود وایاز | نہ کوئی بندہ رہا نہ کوئی بندہ نواز [11] |

الله پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي چې زمونږه هم د نـمونځونو فِکر نصیب شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3): مؤمِن اخلاقي وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کامِل مؤمِن دریمه او ډیره اهمه نخښه ښه اخلاق دي- پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِنَّ اَکْمَلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِيْمَانًا اَحْسَنُهُمْ خُلُقًا یعنې پهٔ ایمان والؤ کښې زیات کامِل ایمان والا هغهٔ دے د چا چې اخلاق د ټولو نه ښه وي- [12]

معلومه شوه چې د چا اخلاق خومره ښه وي، د هغهٔ ایمان به هُغه همره مضبوط او کامِل وي- افسوس چې پهٔ دې معامله کښې خو نن سبا مسلمانان ډیر وروستو پاتې دي- د اخلاقیاتو سبق پهٔ اَصل کښې اِسلام ورکړے دے خو مونږ اخلاق پریښودي دي! غیرو قومونو هم زمونږه اخلاق اختیار کړل- اوس حالات دې ته راغلي دي چې مونږ هم خپل اخلاق د غیر مسلمو نه زده کوو، د هغوئي نه کلاسونه اخلو، د غیرو قومونو د اخلاقو تعریف کوو او دا مو هیر کړي دي چې پهٔ اصل کښې دا هم زمونږه میراث وو، مونږه اختیار نه کړل او نورو اختیار کړل، بیا چې چا اختیار کړل نو هغوئي پهٔ دنیا کښې

---

[11] ...کلیاتِ اقبال(اردو)، بانگِ دار، صفحہ:193-

[12] ...مسند امام احمد، مسند عائشہ، جلد:10، صفحہ:189، حدیث:25414-

ترقي وکړه او مونږ وروستو پاتې شو۔

| | |
|---|---|
| عدل ہے فاطرِ ہستی کا اَزَل کا دَستُور | مُسلم آئیں ہوا کافر تو ملے حُور و قصُور |
| کس کی آنکھوں میں سمایا ہے شعارِ اَغیار | ہو گئی کس کی نگہ طرزِ سلف سے بیزار |
| قلب میں سوز نہیں، رُوح میں اِحساس نہیں | کچھ بھی پیغامِ محمد کا تمہیں پاس نہیں [13] |

**وضاحت:** عدل او انصاف د قدرت قانون دے، چې کله غير مسلمو د مسلمانانو طور طريقې او اخلاق اختيار کړل نو هغوئي ترقي وکړه۔ آه! د مسلمانانو پۀ ذِهن کښې د غيرو طريقې کښيناستې، دوئي د خپلو اسلافو او د بزرګانو د انداز نه بيزاره شول، پۀ زړونو کښې سوز پاتې نه شو، پۀ رُوح کښې احساس پاتې نه شو، آؤ! آؤ! د اِسلام د تعليماتو هيڅ خاطِر ونکړے شو نو مسلمانان د تنزلۍ ژورې کندې ته پريوتل۔

## مسلمان اُمَّت خيرُ الاُمَم دے

حضرت علّامه مفتي عبد المصطفٰے اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د يو مسلمان د پاره د ژوند وړومبے مقصد خَيْرُ الاُمَم يعني بهترين اُمَّت کيدل دي۔ لکه څنګه چې ❁ د ګلاب د پاره خوشبوئي ❁ د لعل د پاره پړقا ❁ او د نـمر د پاره رڼا لازمي ده، هم دغه شان د يو مسلمان د پاره ❁ د خپلو اعمالو او افعالو پۀ لحاظ سره پۀ ټولو اُمَّتونو کښې د ټولو نه اعلیٰ، د ټولو نه افضل، د ټولو نه بهتر کيدل لازمي او ضروري دي ❁ که عبادتونه وي او که معاملې وي ❁ که اخلاق وي او که عادتونه، غرض دا چې د ژوند پۀ هره شعبه کښې، د ژوند تر آخري سلګۍ پورې يو مسلمان صرف خير وي، بس ټول عمر يـې د قرآن او سُنَّت لمن نيولې وي او پۀ نيغه لاره باندې روان وي د پاره د دې چې نور

---

13…کلیاتِ اقبال(اردو)، بانگِ دار، صفحہ:230، 231ملتقطاً۔

قومونه مسلمانان ووينې نو هغوئې ووائې چې [14]

يہی وہ ہیں کہ جن کے واسطے خَتْمُ الرُّسُل آئے | انہی پر ختم ہے "خَیْرُ الْاُمَمْ" کی جلوہ سامانی

وضاحت: دا هُغه خوش قِسمته اُمَّت دے، د چا د هدايت د پاره چې الله پاک د ټولو نه خپل محبوب نبي، خَاتَمُ النَّبِيّينَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم راوليږلو، دې اُمَّت ته د خَيرُ الاُمَم لقب ورکړے شوے دے-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ده د يو مسلمان اَوَّلينه ذِمَّه واري چې مسلمان هميشه خَيرُ الاُمَم يعنې بهترين اُمَّت جوړ شي- يقيناً چې څوک بهتر وي، هغۀ آئيډيل (*Ideal*) هم وي او څوک چې آئيډيل وي، هغوئې د نورو نقل نه کوي، نور پۀ هغوئې پسې روان وي، لهٰذا پکار خو دا ده چې مسلمان داسې جوړ شي چې ❁ نور قومونه د دوئې پيروي وکړي [يعنې پۀ دوئې پسې روان شي]❁ د مسلمان اخلاق داسې اعلیٰ وي چې نور قومونه د مسلمانانو نه اخلاق زده کړي ❁ د مسلمان کردار داسې اعلیٰ وي چې نور قومونه د کردار د بهترۍ د پاره د دوئې صحبت اختيار کړي ❁ د يو مسلمان عادتونه ❁ د هغۀ افعال ❁ د هغۀ خبرې ❁ طور طريقې ❁ چال چلن داسې بهتر وي چې هغۀ آئيډيل جوړ کړے شي، د هغۀ پيروي وکړے شي، نور قومونه د هغۀ پۀ کردار، اخلاقو او عادتونو باندې رَشک وکړي او هغۀ ته وګوري او ژوند ترينه زده کړي-

خو افسوس چې نن حالات اُلټا دي، خَيرُالاُمَم (يعنې بهترين اُمَّت) مونږ يو، پکار خو دا وه چې مونږ د نورو د پاره آئيډيل جوړ شوے وے خو مونږ نور قومونه خپل آئيډيل جوړ کړل، پکار خو دا وه چې نورو قومونو زمونږ نقل کړے وے خو مونږ نقل کوونکي جوړ شو، مونږ د نورو نقل شروع کړو ❁ پۀ کره وره کښې د کافرانو نقل ❁

---

14...عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحہ: 99 بتغیر قلیل۔

پۀ تعلیم کښې د کافرانو نقل ❀ پۀ اصولو او قوانینو کښې د کافرانو نقل ❀ تر دې پورې چې پۀ جامو او پیزار اخستو او خوراک څښاک کښې هم د غیرو قومونو نقل کولے شي، ډیر افسوس چې نن سبا مسلمانان قرآن نه زده کوي، د کافرانو فلسفې زده کوي، د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سیرت ته نه ګوري او د کافرانو انداز اختیاروي۔

| | |
|---|---|
| شور ہے ہوگئے دُنیا سے مسلماں نابُود | ہم یہ کہتے ہیں کہ تھے بھی کہیں مسلم موجود؟ |
| وضع میں تم ہو نصاریٰ تو تمدن میں ہنود | یہ مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کے شرمائیں یہود (15) |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مخکښیني نیکان مسلمانان هم داسې وو، هغوئي به د یو قوم نقل نه کولو، هغوئي به د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت اختیارول، د قرآنِ مجید پۀ ښودلے شوو اُصولو باندې به تلل، پۀ دُنیا کښې هر خوا د هغوئي خبرې وې، رَبِّ کائنات هغوئي ته ترقي عطا کړې وه، هغوئي ته یــې عروج عطا کړے وو، کافِرانو به پۀ هغوئي باندې رَشک کولو، تر دې پورې چې د هغوئي د اخلاقو او کردار نه به متاثره کیدل او کافِرانو به کلمه وئیله۔

راځئ چې د هغې یوه ښکلې ننداره درته وړاندې کړم:

## اخلاق یــې چې ولیدل نو کافِر مسلمان شو

حضرت مالک بن دینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یو ځل یو کور پۀ کرایه باندې واخستو، د هٰغه کور سره بالکل جُخت د یو یهودي کور وو۔ هٰغه یهودي به د بُغض او دښمنۍ پۀ وجه د ناوې [یعنې پرنالې] پۀ ذریعه ګنده اوبه او ګند د مالک بن دینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ کور ته غورځولو، هغوئي به هٰغه ګند صفا کولو او خاموش به پاتې کیدلو، آخر یوه ورځ هٰغه

---

[15]...کلیاتِ اقبال(اردو) بانگ دار، صفحہ:231

يهودي پخپله راغلو او اوئې وئيل: جناب! زما د ناوې پۀ ذريعه د غورځيدونکي نجاست پۀ وجه خو تاسو ته څۀ شکايت نشته؟ حضرت مالک بن دينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير پۀ نرمۍ سره ووئيل: د ناوې نه چې کوم ګند راپريوځي هغه وينځم، يهودي ووئيل: تاسو ته د دومره تکليف باوجود غصه نه درځي؟ اوئې فرمائيل راځي خو خښنم يې ځکه چې (پۀ څلورمه سيپاره، سورۀ آلِ عمران آيت نمبر 134 کښې) د خدائے رحمان فرمانِ مبارک دے:

وَ الۡکٰظِمِیۡنَ الۡغَیۡظَ وَ الۡعَافِیۡنَ عَنِ النَّاسِ ؕ وَ اللّٰہُ یُحِبُّ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۱۳۴﴾

(پارہ:4،سورۂ آلِ عمران:134)

[مفهوم] ترجمہٗ کنزُالعِرفان: او غُصَّه خښنلو والا او خلق معاف کوونکي دي او الله د نيکو خلقو سره محبت فرمائي۔

د حضرت مالِک بن دينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دا ښکلے جواب يې چې واوريدو نو هغه يهودي کلمه ووئيله او مسلمان شو۔ (16)

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا وو مخکښيني مسلمانان--!! د هغوئي د اخلاقو او کردار نه د متاثره کيدو سره به کافرانو کلمه وئيله او نن زمونږه حال څۀ دے؟ زمونږ د ليدو سره به کافِران څۀ مسلمانان شي بلکې ډيره لرې نه ده چې اُلټا د اِسلام نه نفرت شروع کړي۔

16...تذکرۃالاولیاءمترجم،صفحہ:32۔

## د کامِل مؤمِن یو څو ښکلي ښکلي اخلاق

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم وکړي- کاش چې مونږ د ښو اخلاقو والا جوړ شو- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په الله پاک باندې مې دې قَسم وي چې بنده تر هُغه وخته پورې کامِل مؤمِن نشي کيدے، تر څو پورې چې د خپل مسلمان ورور د پاره هُغه څۀ خوښ نه کړي، کوم چې د ځان د پاره خوښوي- [17]

❁ په يو حديثِ پاک شريف کښې يـې ووفرمائيل: د هغۀ ايمان (کامِل) نه دے، څوک چې امانت دار نه دے [18] ❁ د هغۀ هيڅ دِين نشته، څوک چې د وعدې پابند نه دے [19]

❁ په يو روايت کښې يـې ووفرمائيل: دهوکه ورکول د مؤمِن په اخلاقو کښې نه ده [20]

❁ په يو روايت کښې دي: مؤمِن پيغور ورکولو والا، لعنت کولو والا، فحش (يعنې بيهوده) خبرو کولو والا نه وي [21] ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا د شَر نه چې د هغۀ ګاؤنډي محفوظ نه وي، (هغۀ کامِل) مؤمِن نه دے- [22]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دي د کامِل مؤمِن اخلاق--!! ❁ کامِل مؤمِن خير خواهي والا وي ❁ کامِل مؤمِن امانت دار وي ❁ کامِل مؤمِن د وعدې پابند وي ❁ کامِل مؤمِن دهوکه نه ورکوي ❁ کامِل مؤمِن پيغور نه ورکوي ❁ کامِل مؤمِن په چا باندې لعنت نه وائي ❁ کامِل مؤمِن ګنده خبرې نه کوي ❁ کامِل مؤمِن هغه وي په چا

---

[17]… کنز العمال، کتاب الایمان، جز:1، جلد:1، صفحه:36، حديث:96۔

[18]… مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الایمان، ما قالو فی صفة الایمان، جلد:7، صفحه:211، حديث:2۔

[19]… مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الایمان، باب6، جلد:7، صفحه:223، حديث:50۔

[20]… الجامع لابن وہب، جز:2، صفحه:588، حديث:487۔

[21]… ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ما جاء فی اللعنة، صفحه:481، حديث:1977

[22]… بخاری، کتاب الادب، باب اثم من لا یامن جاره...الخ، صفحه:1500، حديث:6016۔

کنبې چې صرف خیر او نیکي وي-

## د مؤمِن مثال

صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہما فرمائي: یوه ورځ مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو، رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم نه یوه پوښتنه وکړه: اوئې فرمائيل: اِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَاِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، فَحَدِّثُونِي مَا هِيَ یعنې په وَنو کښې یوه وَنه ده، د هغې پاڼې نه پریوځي، د هغې مثال د مسلمان په شان دے، ووایئ چې هغه کومه یوه وَنه ده؟ بیا صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم سوچ شروع کړو (چې هغه کومه داسې وَنه کیدے شي چې هغه پاڼې هم نه غورځوي او د هغې مثال د مسلمان په شان دے، چا څهٔ سوچ کولو او چا څهٔ سوچ کولو)- حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہما فرمائي: زما ذِهن ته د دې سوال جواب راغلو (خو زهٔ وړوکے ماشوم ووم، زما نه مشران صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم موجود وو)، ځکه د هغوئي نه د حیا په وجه ما جواب ورنکړو، آخر خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم پخپله ووفرمائيل: هِيَ النَّخْلَةُ یعنې دا د کجورې وَنه ده- [23]

**علمائے کرام فرمائي:** د کجورې وَنه مکمل خیر دے، د دې هر یو جُز، هره یوه حصه ګټه وره ده، فائده منده ده ✿ د کجورې د پاڼو نه چټاياني جوړيږي، د دې نهٔ رسۍ [یعنې پړے] هم جوړولے شي، بلکه د کجورو د ځانګو نه د ډوډۍ کیښودو د پاره شکورونه هم جوړولے شول، او اوس هم په بعضې علاقو کښې دا رواج دے ✿ دغه شان د کجورو د ځانګو نه وور هم بلولے شي، بلکه د مالوچو په ځائے د دې نه بالښتونه هم ډکولے شول ✿ د کجورې د تنې نه ستن هم جوړيږي، بلکه به دا په چتونو کښې د

[23]...بخاری، کتاب العلم، باب قول المحدث...الخ، صفحه:88، حدیث:61-

ګاډرو پهٔ څائے هم استعمالولے کيدله ❁ دغه شان د کجورې د هډوکو هم ډيرې فائدې دي، دا د څاروو پهٔ خوراک کښې استعمالولے شي، دا چې وټکوې او استعمال يې کړې نو پهٔ طِبي طور ډيره فائده منده ده ❁ نوره پاتې شوه کجوره نو هغه خو ډيره فائده منده ميوه ده ❁ پهٔ ميوؤ کښې د ټولو نه زياته طاقتوره او زياده فائده منده ميوه کجوره منلے کيږي ❁ د ساه لنډې، زړهٔ، ځيګر، ګُردې، مثانې، کانې او کولمو پهٔ مرضونو کښې کجوره ډيره فائده منده ده ❁ دا بلغم لرې کوي او د خُلې وَچ والے ختموي۔ غرض دا چې د کجورې د وَنې ډيرې فائدې دي۔

دغه شان د مؤمِن بنده هم داسې مثال دے، مؤمِن بنده هم صرف فائده رسوي، د هغهٔ هيڅ نقصان نه وي۔ دا بس نورو ته صرف فائده رسوي۔[24]

## د مدينے منورې يوه ښکلې واقعه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د يو مسلمان شان دے، مؤمِن بنده صرف خير وي۔ پهٔ مخکښينو مسلمانانو کښې د يو بَل د خير خواهىِ جذبه ډيره زياته وه، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نقل فرمائي: چا د حضرت سيّدي قطبِ مدينه مولانا ضياء الدِّين مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: يا سيّدي! مخکښيني (غالِباً د ترکو د وخت) د مدينے خلق به څنګه وو؟ اوئې فرمائيل: يو مالداره حاجي صاحب پهٔ غريبانانو د کپړې تقسيمولو پهٔ نيت د يو کپړو والا دکان ته لاړو او خومره چې يې پکار وې هغه همره کپړې يې ترينه وغوښتې۔ دکاندار ووئيل: زهٔ آرډر خو پوره کولے شم خو زما درخواست دے چې تاسو د مخامخ دکان نه کپړې واخلئ ځکه چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما نن ډيره کپړه خرڅه کړې ده، د هغه ګاؤندي آمدن کم شوے دے۔ حضرت

24... عمدۃ القاری، کتاب العلم، باب قول المحدث...الخ، جلد:2، صفحہ:20، زیرِ حدیث:61 بتصرف۔

سیّدي قطبِ مدینه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ووفرمائیل: ښخوا د مدینے خلق داسې وو- [25]

## (4): کامِل مؤمن د الله پاک نه ویریدونکے وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د کامِل مؤمِن په نخښو کښې یوه اهمه نخښه د الله پاک نه ویره هم ده- الله پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیْنَ هُمْ مِّنْ خَشْیَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ (پاره:18، المؤمنون:57) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه هغه خلق چې د خپل رب د هیبت نه ویریږي- |

په تفسیرِ صراطُ الجنان کښې دي: یعنې د ایمان والؤ یو صفت دا دے چې هغوئي د خپل رَبّ د عذاب نه ویریږي- [26]

## د امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د الله پاک نه ویره

امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ځوک چې د الله پاک ډیر لوئي ولي او کامِل ایمان والا دے- علّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د هغوئي په باره کښې لیکي: ❁ امام حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به کله تشریف راوړلو نو داسې به ښکاریدو لکه چې ځوک خوږ ملګرے یې دفن کړے دے او واپس راغلے دے ❁ داسې به اوسیدو لکه چې وور یې په سر ولاړ وي ❁ داسې به کښیناستو لکه چې ځوک قیدي دے او اوس به ترینه سر وهلے شي ❁ سحر به یې په داسې حالت کښې کولو لکه چې اوس د قیامت د وحشتونو نه راتیر شوے وي ❁ یو ځل د هغوئي نه چا د حال پوښتنه وکړه نو اوئې

---

25...بُرے خاتمے کے اسباب۔

26...صراط الجنان، پارہ:18، المؤمنون، زیرِ آیت:57، جلد:6، صفحہ:536 بتصرف۔

فرمائیل: د سمندر پۀ مینځ کښې چې د چا کشتۍ ماته شي نو هغۀ به هم زما نه پۀ ښه حالت کښې وي- پوښتنه ترینه اوشوه چې داسې ولې؟ اوئې فرمائیل: **زۀ ګنهګار بنده یم او څۀ نیکۍ چې مې کړې دي، هغه به قبولې شوې وي او که نه زما پۀ مخ باندې به راویشتے کیږي، ما ته معلومه نه ده-** (27)

| | |
|---|---|
| یاالٰہی! جب بہیں آنکھیں حِسابِ جُرم میں | اُن تبسم ریز ہونٹوں کی دُعا کا ساتھ ہو |
| یاالٰہی! جب حسابِ خندۂ بیجا رُلائے | چشمِ گریانِ شفیعِ مرتجٰے کا ساتھ ہو |
| یاالٰہی! رنگ لائیں جب مری بے باکیاں | اُن کی نیچی نیچی نظروں کی حیا کا ساتھ ہو (28) |

وضاحت: یا الله پاکه! د محشر پۀ ورځ چې کله زما د نافرمانو حساب ما ویروي او د سترګو نه مې اوښکې روانې شي- اے کاش چې د هٰغه وَالضُّحیٰ مخ والا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُسکو شونډو دُعا زما ملاتړ شي- یا الله پاکه چې کله قیامت قائم شي او د حساب او کتاب ویره مې ژړوي- کاش چې هٰغه وخت د اُمَّت پۀ غم کښې د اوښکو توئیونکې آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت مې نصیب شي- یا الله پاک چې کله زما د بے باکیانو او بے حیایۍ نه پرده لرې شي، هٰغه وخت د ښکته نظر لرونکې، حیا دار آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حیا فیضان مې نصیب شي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا هم د کامِل ایمان نخښه ده چې د چا ایمان څومره مضبوط وي نو پۀ هغۀ باندې هٰغه همره د الله پاک ویره غالبه وي- کاش چې زمونږه هم د الله پاک د ویرې دولت نصیب شي- پۀ مونږ کښې به **د الله پاک نه ویره** څنګه پیدا کیږي؟ ✿ دې د پاره دې د قرآنِ کریم د تلاوت معمول جوړ کړے شي، خاص طور هٰغه

---

27...آدابُ الحسن البصری، صفحہ:25-26-27،ملتقطاً-

28...حدائقِ بخشش، صفحہ:133-

آیتونه پۀ کومو کښې چې د الله پاک د عذاب، د دوزخ او د قیامت ذِکر دے، هُغه آیتونه دې د ترجمې او تفسیر سره ولوستلے شي او پۀ ذهن کښې دې کښینولے شي او بنه پۀ توجه دې بیا بیا د هُغه آیتونو تلاوت وکړے شي ❁ پۀ حدیثونو مبارکو کښې **د الله پاک د ویرې** بیان دے، داسې حدیثونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د ویریدو** پۀ بابله لیکلے شوي کتابونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د ویریدونکو** بزرګانِ دِین سیرت دې ولوستے شي ❁ جدول دې جوړ کړے شي او روزانه یا کم از کم پۀ هفته کښې دې یو ځل هدیرې ته د تللو معمول جوړ کړے شي، هلته دې فاتحه شریف هم ولوستلے شي، ورسره دې پۀ دې خبره هم غور وکړے شي چې ډیر زر به زۀ هم قبر ته راځم، هُغه وخت به د بے وسۍ حالت څۀ وي؟ بیا دې د قبر پۀ معاملو هم غور وکړے شي او پۀ زړۀ کښې دې **د الله پاک نه د ویرې** پیدا کولو او زیاتولو د پاره یو بَل مَدَني ګل کوم چې د امام غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د تعلیماتو نه حاصلیږي هغۀ دا چې پۀ ابتداء کښې **د الله پاک نه ویره** صرف د یو خیال پۀ شان وي، پۀ زړۀ کښې راشي او ختمه شي، کله ناڅاپه پۀ زړۀ کښې د قبر خیال راشي، کله د قیامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ حضور کښې د حاضرۍ خیال راشي، کله د دوزخ خیال راشي، دا خیال بس د یو څو سیکنډو د پاره وي او دا خیالونه د **د الله پاک نه د ویریدو** پۀ باره کښې د لوستلو سره، **د الله پاک نه د ویرې** پۀ باره کښې د بیانونو وغیره اوریدو سره حاصلیږي، بیا چې کله دا خیالونه زړۀ ته راتلل شروع شي نو بیا ضروري دا ده چې دا خیالونه پۀ زړۀ کښې پاخه کړے شي، مثلاً روزانه د شپې پۀ تنهایۍ کښې کښیناستے شي او د قبر او د آخرت تصور وکړے شي، بیا بیا هدیرې ته حاضري وکړے شي، داسې به بیا بیا د **د الله پاک نه د ویرې** د خیالونو کښینولو سره اِنۡ شَآءَ اللهُ! پۀ ورو ورو دا خیالونه پۀ زړۀ کښې پاخه شي۔

# پهٔ 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د اخلاقي مؤمِن جوړيدو، د الله پاک او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ **12 ديني کارونو** کښې پوره برخه واخلئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دي۔

❁ **د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي۔** ❁ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د سحر د نـمونځ د پاره تللو نو اوده [خلق] به يـې راپاڅول۔ [30] ❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دغه انداز وو [31] او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې عمل کولو۔ [32]

❁ **تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ!** د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ الله! ډير برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو ښځپله به درته هم د جَمعې سره د

---

29...وسائلِ بخشش، صفحہ:119۔

30...ابوداؤد، صفحہ:208، حدیث:1264۔

31...مشکاۃ المصابیح، جلد:1، صفحہ:244، حدیث:1240 ماخوذاً۔

32...تاریخ الخلفاء، صفحہ:112 ماخوذاً۔

سحر د نـمونځ کولو سعادت درنصیب کیږي ❁ سحر سحر به مو د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصیب کیږي ❁ ستاسو پۀ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم میلاویږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! ستاسو پۀ اعمال نامه کښې به هم لیکلے کیږي- ❁ سحر وختي به درته د پیدل تللو موقع میلاویږي نو صحت به مو هم ښه کیږي ❁ یوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډیر راځي، د یو اِسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې مونږ پۀ یخنۍ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زیات شول چې د جومات پۀ دالان کښې مو ورته شامیانې [یعنې تمبوان] ولګول- سُبْحٰنَ اللهُ!

هیڅ ګرانه نه ده، د جُمعې د وخت نه 20، 25 منټه مخکښې راپاڅئ! د سحر د نـمونځ د پاره خو هسې هم څئ، اواز کوئ او څئ! جومات ته به هم ورسئ او د اللّٰه پاک پۀ فضل سره به د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم درنصیب شي- نیت وکړئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاڅووم- راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره تاسو ته یو مَدَني سپرلے بیان کړم-

## د فیضانِ مدینے د پاره زمکه میلاؤ شوه

د یو اِسلامي ورور بیان دے چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره مونږ یو ښار ته لاړو، د سحر د اذان نه پس مونږه د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو د پاره تللو چې ناڅاپه د یو کور نه یو ماډرن ځلمے هم زمونږ سره شامل شو او هغۀ د سحر نـمونځ پۀ جومات کښې د جَمعې سره ادا کړو- وروستو د هٰغه ځلمي پلار د مَدَني قافلې والؤ سره د ملاقات د پاره راغلو- هغۀ ډیر مالداره کس وو- هغۀ ووئیل چې د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو پۀ برکت زما نافرمانه ماډرن بے نـمانځه ځوي پینځه وخته نـمونځ ګزاره شوے

دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ھغه ماډرن ځلمي پلار متاثره شو او په ھغه ښار کښې يې د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د پاره زمکه ورکړه-

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نعت کوليکشن (Naat Collection) موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) په ذريعه هم عِلم دِين عام کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې ***Naat Collection*** (نعت کوليکشن) دے- ❁ په دې ايپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتيِ اعظم هند، مولانا حسن رضا خان، مولانا جميل رضوي، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او د امير اهلسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❁ په هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او رديف په ترتيب سره کتلے شئ- د سرچ بار په ذريعه د خپلي خوښې کلام په آسانئ سره لټولے شئ ❁ مختلف کلامونه په آډيو/ويډيو کښې اوريدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ❁ د خپلي خوښې په کلام نخښه لګولے شئ او بيا بيا يې اوريدے شئ ❁ تاسو د خپلي خوښې کلام په مائي کليکشن ***My Collection*** فيچر کښې محفوظ کولے هم شئ- کلام يا شعر کاپي کولے شئ او په واټس ايپ، فيس بک، ټويټر وغيره باندې يې

شیئر کولے هم شئ۔ دا ایپ ټخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ **امیرِ اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ **پۀ مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس پۀ مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰہ! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې ټخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د امیرِ اهلِسُنَّت د مدینے د سفر 1980 نه واپسي** اعلان کولے شي۔ دا رساله ټخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (***Share***) کړي! ❁ د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ژوند مبارک د هر مسلمان د پاره د لارې مشال دے، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د الله پاک د ویرې او د عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیره حصه حاصله وه۔ مکتبة المدینه د هغوئي پۀ ژوند مبارک باندې پۀ 2 جلدونو کښې یو کتاب پۀ نوم د **فیضانِ فاروقِ اعظم** چاپ کړے دے۔ ټول اِسلامي ورونړه د دې کتاب **جلد اوّل پۀ 1300 روپۍ** او **جلد دویم پۀ 590 روپۍ** د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پۀ بیعه واخلئ۔ ټخپله یې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (33)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د ګوتمې په باره کښې سُنَّت او آداب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نارينه د پاره د سرو زرو ګوتمه په لاس کول حرام کار دے- د دواړو جهانونو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې په لاس کولو نه منع فرمائيلې ده ❀ نابالغه (يعنې ډير وړوکي) هلک ته هم د سرو زرو سپينو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو نو هغهٔ به ګنهګاريږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او ښپو باندې بغير د ضرورت نه نکريزه لګول جائز کار نه دے- زنانه يې پخپله په خپلو لاسونو او ښپو باندې لګولے شي، خو که خپل هلک له يې لګوي نو ګنهګاريږي به ❀ د اوسپنې ګوتمه د دوزخيانو کالے دے ❀ د نارينوو د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارينوو د ګوتمې په شان وي يعنې صِرف د يو غمې والا وي او که چرې په هغې کښې (د يو نه زيات يا) ډير غمې وي نو که هغه د سپينو زرو ولې نه وي، د نارينوو د پاره جائز نه ده ❀ بغير د غمې نه ګوتمه په لاس کول جائز نه ده چې دا ګوتمه

33…تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343-

نه ګرېږه ده ❀ د سپينو زرو د يوې ګوتمې د يو غمي وزن چې د څلور نيمو ماسو (يعنې څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، په لاس کول يې جائز دي ❀ په اخترونو کښې ګوتمه په لاس کول مستحب عمل دے- خو نارينه دې هغه جائز والا ګوتمه په لاس کوي ❀ نارينه له پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړوي او زنانه دې د لاس شا طرف ته ساتي ❀ د سپينو زرو ګرېږه خاص د زنانوو جامه ده د نارينوو د پاره مکروه (تحريمي، ناجائزه او ګناه ده) ❀ زنانه چې د سرو زرو او سپينو زرو څومره هم ګوتمې او ګړې په لاس کولے شي، په هغې کښې د وزن او د غمو د شميرې څه قيد نشته ❀ د اوسپنې ګوتمې ته د سپينو زرو خول اچول چې هغه بالکل اوسپنه بيخې نه ښکاري، د دې ګوتمې په لاس کول (د نارينه او زنانه دواړو د پاره) منع نه دي-(34)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا
گر مدینے کا غم چاہیے چشمِ نم

چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو
لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(35)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

---

34...550 سنّتيں اور آداب، صفحہ:57،58 ملتقطاً-

35...وسائلِ بخشش، صفحہ:669-

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبُر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[36] راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

36...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ١٥١ ملخصًا

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[37] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَمَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[38] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[39] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[40] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

---

37...القول البديع، الباب الثانی، ص ۲۷۷
38...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیۃ والخمسون، ص ۱۴۹
39...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵
40...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[41] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[42] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

41... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

42... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵